# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد  بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم  از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com  www.afgazad.com

| مسایل ایدیولوژیک | Ideological |
|---|---|



درویش وردک

۲۱ جون ۲۰۱۶

## شپږڅلویښتم مجلس(د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په پیروی کی)

د ۵۴۵هجری قمری کال درجب دمیاشتی په اتلسمه دیکشنبی ورځ سهار شیخ عبدالقادرگیلانی(قَدَسَ روحُهُ) په مدرسه کی داسی وفرمایل: دنیا دداسی بازارپه څیرده چی ژربه وتړل شی. دخلکو دديداردروازه پرمخ وتړی اودحق دديدار دروازه پرمخ پرانیزی. په اسبابو اووسایلو دتوسل دروازی دزړه دصفا پرمخ وتړی، اوهغه څه چی خاص تاسولره دی، په هغی پسی اوسی. ددنیا دمال ترلاسه کول ددنیاداهل اواتباعو اوغیرولپاره وی، پس په هغه څه پسی اوسی چی کټه یی راساً تاته دررسیږی. نفس ددنیا په کاربوخت کړه، زړه دآخرت په یاد اوباطن مولی ته وسپاره.

بیایی وفرمایل:دراستانوقوم ابدال او اولیاء دی، دوی ته پاملرنه وکړی، ځکه دوی دخدای اورسول په امرفرمان ورکوی، اوله هغه څه چی منع کوی، دخدای اورسول ددستوراتوپراساس دی. هیڅ حرکت په خپل میل اوغوښتنه نه ترسره کوی، دحق په دین کی بدعت ګذاره ندی، په ټولو احوالو اواقوالو کی درسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) څخه پیروی کوی، دحق فرمان ته غوږدی چی فرمایی: (وَماآتاکُمُ الرَّسُولَ فَخُذهُ،وَمانَهاکُمْ عَنهُ فَانْتَهُوا)-«هغه څه چی رسول درته عطاکوی واخلی، اوله هغه څه چی منع کوی، ډډه وکړی». درسول صلی الله علیه وسلم له اوامرو څخه یی پیروی کړی ، ترڅو دقرب مقام ته رسیدلی، اودعالی القابو،عناوینو اومراتبوخاوندان ګرځیدلی.

ای منافقینو، تصورکوی چی دین اوالهی اوامر بیهوده اوباطله دی؟ تاسواوستاسو هملاسی دهیڅ ډول کرامت اوبزرګواری خاوندان نه یاست، لویه خدایه زماوددوی توبه ومنی، اودشرک اوخواری اوذل څخه یی وژغوری.

دخدای پرستش وکړی،اودطاعت اوعبادت توفیق له ده څخه وغواړی. وغواړی ترڅوتاسو دحلالو پر کسب بریالی کړی، ځکه خدای ته هغه مطیع بنده ګران دی چی دحلالی روزی ښتن وی، اوهغه بنده چی نیک اعمال ترسره کوی ورته ګران دی چی دمشروع کارښتن وی، اوهغه بنده ورته دښمن دی چی دنفاق له لاری ارتزاق کوی. خدای ته موحد بنده ګران دی، اومشرک ورته مبغوض دی، هغه چی پرده ایمان لری ورته ګران، اوهغه چی ورسره منازع دی، ورته دښمن دی.

دخدای دمحبت له شرطونو،دهغی دغوښتنی سره موافقت دی، اوددښمنی علامت دده دارادی سره مخالفت دی. ځانونه خدای ته وسپاری، اودده دغوښتنی اوتقدیرپروړاندی کاملا راضی اوسی،که په دنیا اویا آخرت کی وی.

ځکه ډیری وخت چی خدای پاک زه په مصیبتونو سره آزمایښت کړی یم، اوله خدایه می یی دفع غوښتی، هغه برطرفه شوی، اوبیا په ډیرونوروستونزو واوښتم، حیران شوم، ولی یوه ویونکی راته وویل: آیا درته نه می و ،ویلی چی باید په اوله مرتبه کی دتسلیم اورضا حالت درلودونکی وی؟ نوځکه چپ شوم اودتسلیم لاره می غوره کړه.

وای پرتا! ته دخدای دمحبت مدعی یی، ولی له هغی پرته دغیروسره مینه کوی. هغه دصفا اوپاکی درلودونکی دی، اوغیردتیاروااوکدورتو. هرکله که ددهغی صفا دنوروپه تیاروبدله کړه، پوه شه چی له تاڅخه به تکدرحاصل کړی، همداسی چی کله ابراهیم خلیل اویعقوب(علیمها السلام) چی کله له خپلو زامنو سره دلبستګی پیداکړه، اودزړه په سوزبه وربا ندی ګران و،دالهی آزمایښت لاندی راغلل. اوپیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) کله چی دخپلولمسیانو حسن اوحسین( رضی الله تعالی عنهما) سره فوق العاده محبت پیداکړ،جبرئیل (علیه السلام) ورته راغی اوتری ویی پوښتل: آیا دوی درباند ډیرګران دی؟ حضرت ځواب ورکړ: هوکی! بیا جبرئیل علیه السلام ورته وویل: یوبه په زهرو شهیدشی، اوبل به هم شهید شی. بیا نو حضرت رسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) به ددوی بی حده مهرله زړه څخه وایست، اوزړه یی خاص مولالپاره وګرځاوه، اوددوی شادکامی یی په اندوه بدله کړه.

متعال خدای غیوردی، نه غواړی پرته دده له محبته داولیاو اوانبیاواوصالحو بندګانو په زړونو کی دبل محبت ځای ونیسی..

ای ددنیا غوښتونکیه! لاسونه دپرانیزه، وګوره چی کوم څه په لاس کی نلری.وای پرتا! تا مشروع کسب ایله کړی، اوسترګی په لاره یی چی دنورو دمال څخه دخپل دین پواسطه ګټه پورته کړی. پوه شه چی کسب اوکاردټولو انبیاو شیوه وه. هم یی په دنیا کی له حلال کسبه ژوند کړی، اوپه آخرت کی یی دخدای په امرعمل کړی.

ای ددنیا دشهواتودشرابو مسته! پوه شه چی ژربه په قبرکی له دی مستی راویښ شی.

**«ربنا آتنا فی الدنیا حسنه وفی الاخره حسنه وقنا عذاب النار» آمین**